# د قامي بېدارۍ ضرورت

زبېدالرحمان زاهد

پښتو ته چې کله هم څۀ اجتماعي کشاله راپېښه شوې ده نو هغوي په خپلو کښې جرګه شوي دي او هغه کشاله ئې هواره کړې ده خو کله چې په 1979 کښې په افغانستان کښې د ثور انقلاب وشو، د سردار محمد داؤد خان باچائي ختمه شوه او يو مزدور رهبر نور محمد ترکي د اختيار واګې په خپل لاس کښې واخستې نو د ټولې دنيا سترګې د افغانستان په پښتنو پربوتې ځکه چې د هغوي سره دا ويره پېدا شوه، هسې نه چې د دې اور دا لمبې د هغوي شاهي محلونو ته ورسي نو د امريکې واکمن او د هغې اتحاديان راپورته شول او دا کلک ترون ئې وکړو چې د دې انقلاب لاره ونيسي او د هغې دپاره ئې يوه لويه حکمت عملي اختيار کړه، د لر او بر مذهبي ګوندونه ئې په خپل لاس کښې واخستل او د يو مضبوط سازش په زور ئې د ثور انقلاب له منځه يوړو. خپل جنګ ئې د پښتنو کور ته راوړو، پښتانۀ ئې د مذهب په تُوره ووهل، چنګ ونګ او تالا والا ئې کړل، نن هم د هغه تاريخ د تکرارولو تابيا په دې خاوره کول غواړي. خو د دې مخنيوے به په هغه صورت کښې ممکن وي چې چنګ ونګ پښتانۀ د يو بېرغ لاندې راغونډ شي. دا کشاله په دې خاوره ميشته ټولو قامونو ته په عمومي توګه او په خصوصي توګه پښتنو ته پېښه ده. خو کۀ په دې خاوره نورو قامونو ته فکر وکړو کۀ هغه پنجابے دے، کۀ سندھے دے، کۀ بلوچ دے او کۀ مهاجر دے نو هغه ټول يو مُوټے او يو اواز دي خو د بده مرغه پښتون يوا ځينے قام دے چې د دے د نفاق ښکار دے. په شتۀ ټاټوبي کښې بې وطنه دے، په شتۀ قام کښې بې قامه دے او په شتۀ ژبه کښې چاړا دے، ځکه خو ئې هر مېدان بائللے دے او په هر سنګر ئې ماتې خوړلې ده، ځپلے شوے دے، ځورولے شوے دے خور شوې دے او خوار شوے دے. نور قامونه لګيا دي په خپل معاشرتي چوکاټ کښې ژوند کوي، مخ په پورته روان دي خو مونږ پښتانۀ يو داسې قام يُو چې لا تراوسه د نفاق او اتفاق په معنٰي نۀ يُو پوهه او هم دا د دغې بې اتفاقۍ نتيجه ده چې مونږ د هر غاصب جنګ خپل کور له راوړے دے، د خپل کور امن مو تالا ترغه کړے دے، خپله پاکه خاوره مو په خپلو وينو سره کړې ده، د خپل ښار، کلي او د خپل کوره مو اديره جوړه کړې ده، خپل انغړے مو وران کړے دے، د ډالرو باران په شپو شپبر راوربږي، د غنيمت مال دے، هر بې ضميره دلال ترې خپله برخه اخلي، خو زۀ پکښې د يو ټُوک ډوډۍ دپاره د بل محتاجه يم، زما برخه پکښې صرف او صرف ګولۍ ورول دي، ګولې خوړل دي او د خپلو مړو مړې بوټۍ راغونډول دي. ځکه خو صاحب شاه صابر وائي:



په مېدان ما جنګوي، ما له شاباسے راکوي
خو د مېدان په وېش کښې نۀ مني زما شهیدان
مونږه د یو جنګه خبر نۀ شو چې چا وګټۀ
مونږه د هره جنګه راوړۀ د دنیا شهیدان

دا منم چې د دغه خاورې څۀ بې ضمیره پښتانۀ هم په دې ناوړه کار کښې د غاصبانو ملګري وو چې د یو څو ډالرو په عوض ئې د پښتنو د سرونو سودا کړې وه، آیا دغه خلق مونږ لا تر اوسه نۀ دي پېژندلي؟ نا، ښۀ ئې پېژنو چې په یو مخ څو رنګونه بدلوي خو مونږ هم پرې سترګې پټې کړې دي نو راځئ چې په دې خبره خو لږ فکر وکړو چې مجاهد پښتون، طالب پښتون، خودکُش پښتون او په خودکُش چاودنه کښې چې څوک مري دا هم پښتانۀ دي او کۀ نه؟

وزیرستان او کرمه ئې وسوزول اوس هم استعمارګر د لوړې سر ته ختلي دي لکه د مخکښې په شان ناست دي تماشه کوي، د پښتنو زلمو لاشونه بې ګوره، بې کفنه پراتۀ دي، پښتنې میاندې بُورې شوي، مېرونې کُنډې شوې، پېغلې ورارې شوې، پښتانۀ بچې یتیمان شول، د یو پښتون د ټوپکه وتې ګولۍ د بل پښتون سینه غلبیل کړه، څکه خو سائل صیب وائي:



د پښتني تاریخ یوه یوه لحظه مې وژني
د ورور د وینې بوئے د خپل ورور د ټوپکه راځي

د استعماري طاقتونو په ضد چې کوم یو قام پرسته لیډر اواز راپورته کړے دے او د هغوي د دې ناوړه کار غندنه ئې کړې ده، نو یا خو ئې د هغۀ اواز د ګولۍ په زور خاموشه کړے دے او یا ئې ورپسې درباري ملایان لګولي دي. هغه داسې چې کله په **1982** کښې باچا خان پښتنو ته چغه وکړه چې اې پښتنو دا څۀ کوئ، پردے جنګ مو په خپل سر اخستے دے، راغونډ شئ په خپلو کښې لویه جرګه راوغواړئ، لکه د نور کله په شان خپلې کورنۍ شخړې په خپله هوارې کړئ. دا د کفر او اسلام جنګ نۀ دے دا د روس او امریکې جنګ دے، امریکه د روس نه د وېټ نام د شکست بدل اخلي نو هغه بې ضمیره پښتانۀ چا چې خپل دین او ایمان په امریکې د یو څو ډالرو په بدل خرڅ کړےؤ راپاڅېدل او د جماعت د مقدس منبر نه ئې دا نعره راپورته کړه چې باچا خان کافر دے، ملحد دے، د کفر او اسلام جنګ ته د روس او امریکې جنګ وائي خو چې کله د امریکې مقصد پوره شو، روس شکست وخوړو او ټوټې ټوټې شو، نو امریکن واکمن د افغانستان نه بېرته لاړل، په سپینه ماڼۍ کښې ئې د خوشحالۍ جشنونه ونمانځل او په افغانستان ئې هغه ټول امداد بند کړو کوم چې به ئې جهادي تنظیمونو ته ورکوو نو د هغې خلقو سُول سر له راغے او بیا به ئې په خپله دا نعرې وهلې چې دا جهاد نۀ ؤ د روس او امریکې جنګ ؤ څکه چې په هغوي د امریکې ډالرې بندې شوې، هغه وخت هم کۀ چرې پښتنو د هوش نه کار اخستے وے د باچا خان خبره ئې منلې وے نو نن به نۀ افغانستان د تباهۍ طرفته تلے وے او نۀ به افغانان ځپلي شوي او خوار شوي وے.
نن هغه جنګ دې خوا راپورې وتے دے او د دې ځائے پښتانۀ پکښې سوزي، د سوات د مرغزارونو د سپینو

او يخو اوبو د چينو نه نن د بارودو بوئے راخېژي، د
نښترو لوئے لوئے ځنګلونه په تورو لوګو کښې پټ
دي،نن د هغې غرونو نه د شپونکي د شپېلۍ اواز نهٔ
راځي.

نن د هغه کورونو نه د ساندو اوازونه راخېژي،
خوېندې د ورونړو په لاشونو وير کوي او مياندې د خپلو
زامنو سرونو ته ناستې دي، د سپين ږيرو د سرونو نه
شملې وغورځېدې او د زنانؤ د سرونو نه د حيا ډکې
څادرې رابنکلې شوې، نن د سوات او باجوړ پښتانهٔ په
شتهٔ وطن او شتهٔ کور کښې بې کوره دي. خوار هم شو او
خوارهٔ هم شو، امن تالا والا شو، تر څو چې مونږ يو شوي
نهٔ يُو، تر څو چې مونږ په يو سنګر راغونډ شوي نهٔ يُو،
تر څو چې مونږ يو اواز او يو موټي شوي نهٔ يُو، دا
ستونزې او دا کړمې به زمونږه څوک او څنګه هواروي؟
هغه داسې چې مونږ په خپلو سوچونو کښې بدلون
راولو، په يو مزي کښې ځان وپېرو، هله به خپل مرام ته
رسو، لا به يوکېږو، ګنې ورکېږو. تاسو ته دې دا ياده
وي چې دا خاوره دومره بې ننګه او دومره بې پته نهٔ ده،
دې خو په هر وخت کښې لوئے لوئے سرخېلان راپېدا کړي
دي چې په هم دې سنګر ئې د مغل او پېرنګ لار نيولې
ده، ميروېس بابا چې ايرانيان ئې د خپلې خاورې نه د
تورې په زور ويستي وو، بايزيد روښان چې د
پښتونخوا نه به ئې چغه پورته کړه نو د مغلو په شاهي
محلونو کښې به زلزله راغله، خوشحال خان خټک، دريا
خان اپريدي او ايمل خان مومند چې تُورې ته لاس کړو
نو د مغلو په وينو ئې د خيبر نه واخله تر اټکه ټوله
پښتونخوا سره کړه، احمد شاه ابدالي چې د کابل نه روان
شو نو په هندوستان کښې ئې مرهټه د پاني پت په ميدان
کښې ووهل، باچا خان چې د پېرنګي سامراج خلاف ئې
يوه اوږده مبارزه کړې ده او پېرنګيان ئې د خپلې خاورې
نه په وتو مجبوره کړل، خان بابا چې تر اخري سلګو
پورې د پښتنو د حق دپاره د پنجابي استعمار ګرو سره
لاس او ګرېوان ؤ، مونږ اوس هم د خپلو سرخېلانو نه دا
ګېله کوو چې هغوي زمونږ دپاره څهٔ کړي دي؟

پښتون يو داسې بدبخته قوم دے چې په شتهٔ وطن
کښې بې وطنه دے، په شتهٔ قام کښې بې قامه دے، نهٔ
ئې څوک قام ګڼي او نهٔ ئې څوک وجود مني، دا ځکه چې
مونږ د نفاق ښکار يُو، مونږ لا تر اوسه خپل ځانګړے
سوچ په اجتماعي سوچ کښې بدل نهٔ کړے شو، نور
قامونه د وخت سره تګ کوي، خپل تاريخ جوړوي،
زمونږ غټه ګناه دا ده چې مونږ د خپلو اسلافو تاريخ هېر
کړے دے، خپله ژبه مو هېره کړې ده، په هر څهٔ مو
سترګې پټې کړې دي او په پټو سترګو مرام ته رسېدل
ډېره ناشونې خبره ده. په دې حقله سائل صېب وائي:

خټلي نهٔ دي په عروج غېر متحد قومونه
څو چې پوه نهٔ شي ښاده ورځ به په پښتون نهٔ راځي